**د ټرون د ورکولو دپرېکړې خبرتیا**

**موضوع**: د تکنالوژی او معلوماتی لوی آمریت لپاره د دسکتاپ کمپیوترونو چمتو او تدارک کول د لوژستیکی ایمفول شرکت ته د ټرون ورکولو د پریکړئ خبرتیا

د تدارکاتو قانون د درې څلویښتمې مادې د دویمې فقرې سره سم، له دې لارې ټولو ته خبر ورکول کېږي، چې : : د تکنالوژی او معلوماتی لوی آمریت لپاره د دسکتاپ کمپیوترونو چمتو او تدارک کول د لوژستیکی ایمفول شرکت چی DAB/1403/NCB/G11 تشخیصیه نمبر لاندې دی ورکړې، چې دا شرکت د D-38996 شمېرې جواز لرونکی او اصلي موقعیت یی مسلم سرک شهر نو، څلورمه ناحیه، کابل کې دی. د ټرون ټولیزه بیه (31,418,230) یو دیرش میلیون او څلور سوه اته لس زره او دوه سوه دیرش فغانی ده.

د حقیقي او حکمي اشخاصو د هر ډول نیوکو په صورت کې دوی کولای شي چې د تدارکاتو قانون د پنځوسمې مادې سره سم خپله نیوکه په لیکلې بڼه د لاملونو په ذکر کولو سره د اعلان د خپریدو له نېټې تر اوو تقویمي ورځو د افغانستان بانک د تدارکاتو لوی آمریت ته، چې په ابن سینا واټ کې موقعیت لري، وسپاري.

دا خبرتیا د ټرون د عقد کولو په مانا نه ده او د پورته ذکر شوې مودې او د راتلونکو قانوني پړاوونو تر بشپړېدو به ټرون نه عقد کېږی.